# د حضرتِ آدم علیه السّلام

## په باره کښې شکلي معلومات

پښتو

پیشکش:

مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)

ترجمه:

ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالے نوم: د حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام په باره کښې ښکلي معلومات

اول ځل: ..........................................

تعداد: ......................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام په باره کښې ښکلې معلومات

دا رِساله "دحضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام په باره کښې ښکلې معلومات" په اردو ژبه کښې ليکلې شوې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

Email: 🖃 translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د حضرتِ آدم عَلَیْہِ السَّلَام په باره کښې شکلي معلومات

**دعائے عطار**:یاربِّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "د حضرتِ آدم عَلَیْہِ السَّلَام په باره کښې شکلي معلومات" اولولي یا ئې واوري، هغه د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د فیضان نه مالامال کړې او د هغه نه همیشه همیشه د پاره راضي شې. اٰمین بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

الله پاک چې کله حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه حضرت حَوّا بي بي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا پیدا کړه نو حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د هغې طرف ته د مینې لاس وړ وړاندې کولو اراده اوفرمائیله نو فرښتو عرض اوکړو: اے آدم! لږ صبر اوکړئ، مخکښې د دې مهر ادا کړئ. هغوئې عَلَیْہِ السَّلَام اوفرمائیل:د دې مهر څه دے؟ فرښتو عرض اوکړو: د دې مهر دا دے چې تاسو زمونږ په سردار مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درې یا لس ځله درود شریف اولولئ. چنانچه هغوئې درود شریف اولوستلو او د فرښتو په ګواهئ سره د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د حضرت بي بي حَوّا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا سره نکاح اوشوه. د دې نه معلومه شوه چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هر موجود څیز د پاره وسیله دے تر دې پورې چې د خپل والد حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د پاره هم وسیله دے.

(تفسیرصاوی،پ5،النساء،تحت الآیۃ:1، 2/355، شرح الزرقانی علی المواہب، 1/101ماخوذا)

حَوّا سے جب آدم کا عہد مہر دُرود ہوا
آدم سے وہ نورِ خدا زوجہ کو تفویض ہوا
لَآاِلٰہَ اِلَّا اللہ ❁ اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه اوَلنے انسان او اوَلنے رسول

خوېندو او مُحترمو اسلامي ورونړو! الله پاک د زمکې او آسمانونو پیدا کولو نه

مخکښې فرښتے پیدا کړې بیا ئي پیریان د اور د شعلے نه پیدا کړل او د هغې نه پس ئي انسان پیدا کړو. د ټولو نه اوَلنے انسان د **اللّٰه** پاک خوږ نبي حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دے او هم هغوئي اوَلنے رسول دے چې هغوئي ته شریعت ورکړے شو او د خپل اولاد طرف ته اولیږلے شو حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام ته اَوَّلُ الرُّسُل په دې وجه وائي چې هغوئي د کفر و شرک خوریدو نه پس د ټولو نه اول د مخلوق طرف ته د هدایت پاره رالیږلے شوے وو. (نزہۃ القاری،5/52مفہوما) حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام اولنے خَلِيْفَةُ الله هم دے لکه په اوله سیپاره، سُوْرَةُ الْبَقَرَة آیت نمبر 30 کښې ارشاد مبارک دے:

| | | |
|---|---|---|
| وَ اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓىٕكَةِ اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً ؕ | | [مَفہوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او یاد کړه چې کله ستا رب فرښتو ته اوفرمائیل، زه په زمکه باندې خپل نائب جوړولو والا یم. |

د دې آیت په تفسیر کښې دي: خلیفه هغه ته وائي څوک چې احکامات جاري کولو او نورو اختیاراتو کښې د اصل نائب وي. اګر چې ټول انبیاء کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام د **اللّٰه** پاک خُلَفاء دي خو دلته د خلیفه نه مراد حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دے او فرښتو ته د حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام د خلافت خبر په دې وجه ورکړے شو چې هغوئي د دوئي د خلیفه جوړیدلو حکمت معلوم کړي او په هغوئي باندې د خلیفه عظمت و شان ښکاره شي چې هغوئي ته د پیدائش نه مخکښې د خلیفه لقب ورکړے شوے دے او آسمان والؤ ته د هغوئي د پیدائش خوشخبري ورکړے شوه.

(تفسیر صراط الجنان، پ1، البقرۃ: تحت الآیۃ:30، 1/96)

## د اللّٰه پاک او د هغه د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنّت

اے عاشقان رسول! **اللّٰه** پاک د دې نه پاک دے چې هغه ته د چا د مشورے ضروروت وي البته دلته د خلیفه جوړولو خبر فرښتو ته په ظاهره د مشورے په انداز کښې ورکړے شو. د دې نه اشارةً معلومیږي چې یو اهم کار کولو نه مخکښې خپلو

ماتحتو کسانو سره مشوره کول پکار دي چې که د دې متعلق د هغوئي په ذهن کښې څه خبره وي چې هغه حل کړے شي يا ترينه يوه داسې فائده منده رائے حاصله شي چې د هغې په وجه دا کار نور په ښه انداز سره اوشي. **الله** پاک خپل خوږ حبيب آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته هم صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان سره د مشورے کولو په قرآن کريم کښې حکم ارشاد فرمائيلے دے. بےشکه **الله** پاک ته فرښتو سره او حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته خپلو اصحابو سره د مشورے کولو حاجت نشته خو د مشورے کولو په باره کښې فرمائيل د امّت د تعليم د پاره دي چې امت هم په دې سنت باندې عمل اوکړي د حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روايت دے چې کله دا آيت مبارکه ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْاَمْرِ ۚ﴾ (پ4،آل عمران:159) [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او په کارونو کښې د دوئي نه مشوره اخله" نازل شو نو نبي رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: بےشکه **الله** پاک او د هغه رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مشورے کولو نه مستغني (بےپرواه) دي خو **الله** پاک مشوره زما د امت د پاره رحمت جوړه کړې ده.

(شعب الایمان، 76/6، حدیث:7542)

## د "سُنَّت" درې حروفو په نسبت سره د مشورے په باره کښې درې فرامينِ مصطفٰی

﴿1﴾ کوم کس چې د يو کار اراده اوکړي او په هغې کښې د يو مسلمان کس سره مشوره اوکړی **الله** پاک هغه ته د صحيح کار هدايت ورکړي. (تفسیر درمنثور، 357/7)

﴿2﴾ چا چې مشوره اوکړه هغه به نادِم (يعني شرمِنده) کيږي نه. (معجم اوسط، 77/5، حدیث:6627)

﴿3﴾ کوم بنده چې مشوره واخلي هغه کله بدبخته کيږي نه او کوم بنده چې خپله رائے چلوي او د نورو د مشورو نه مُستغني (بےپرواه) وي هغه کله نيک بخته کيږي نه. (تفسیر قرطبی، پ4، آل عمران، تحت الآیۃ:159، 193/2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پيدائش

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! الله پاک حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام بغير د مور او پلار نه د خاورې نه پيدا کړے دے، د هغوئي د پيدائش واقعه څه داسې ده چې الله پاک حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم اوفرمائيلو چې د زمکې نه يو مُوټے خاوره راوړه. حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د زمکې نه خاوره اوچتول غوښتل نو زمکې ترينه د سبب تپوس اوکړو. هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام توله واقعه بيان کړه، زمکې اووئيل: زه د الله پناه غواړم د دې خبرې نه چې زمانه څه کم کړے شي يا زما څه خيز خراب کړے شي، حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د خاورې اخستلو نه بغير بيرته راغلو او عرض ئې اوکړو: اے زما ربه! زمکې ستا پناه طلب کړه نو زه ستا د نوم مبارک او ستا د عزت د ادب کولو په وجه واپس راغلم او هغې ته مې پناه ورکړه. بيا الله پاک حضرت ميکائيل عَلَيْهِ السَّلَام اوليږلو نو هغوئي هم زمکې ته پناه ورکړه او بارګاهِ اِلٰهي کښې ئې هُم هغه څه عرض کړل څه چې حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام عرض کړي وو. بيا الله پاک حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلَام اوليږلو نو هغوئي هم دغه شان واپس راغلل، بيا ئې حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام اوليږلو، کله چې زمکې د هغوئي نه پناه اوغوښتله نو هغوئي اوفرمائيل: زه د دې خبرې نه د الله پاک پناه غواړم چې د هغه په حکم باندې عمل کولو نه بغير واپس لاړ شم. چنانچه هغوئي د زمکې نه خاوره واخستله نو الله پاک د روح قبض کولو کار هم د هغوئي په ذمه اولګولو چې هُم تا دا د زمکې نه رابيله کړې ده، هُم ته ئې يو ځائے کوه او د هغوئي نوم مَلَکُ الْمَوت يعني د مرګ فرښته کيښودے شو. (تفسیر نعیمی، پ1، البقرة، تحت الآية:30، 1/ 225، تفسیرِ عزیزی، جلد1/336)

## څو قسمه خاورې وې

د الله پاک خوږ آخري نبي، مَکِّی مَدَنی، مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: الله پاک حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام د يو موټې [خاورې] نه پيدا کړو کومه چې د ټولې دنيا د

زمکې نه اخستې شوې وه. لهٰذا د آدم (عَلَیْہِ السَّلَام) اولاد د زمکې په اندازه راغلل چې په هغوئي کښې سرۀ، سپین او تور او درمیانه او نرم او سخت، پاک او پلید دي. (ترمذی،444/4، حدیث:2965) بعضې حضراتو فرمائیلي دي چې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په خاوره کښې 60 قسمه رنګونه شامل وو او دا ټول د هغوئي په اولاد کښې شته.
(تفسیرصاوی،البقرۃ،تحت الآیۃ:30، 48/1)

## حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ته آدم ولے وائي؟

حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما ارشاد فرمائیلے: بےشکه الله پاک آدم (عَلَیْہِ السَّلَام) د جُمعے په ورځ د مازدیګر نه پس پیدا کړو او هغوئي ئې د اَدِیمُ الْاَرْض یعني د ښکاره زمکې د یو مُوټي خاورې نه پیدا کړو ځکه هغوئي ته آدم وائي.(تاریخ ابن عساکر،375/7) او د هغوئي اولاد ته آدمي یعني آدم والا وائي.

## د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام کُینت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! ولے چې حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د ټولو انسانانو والد دے په دې وجه د هغوئي یو کُنیت **اَبُوالْبَشَر** دے، او یو کُنیت ئې **اَبُومُحَمَّد** هُم دے او په جنت کښې به ئې هم دا کُنیت وي لکه څنګه چې حدیثِ پاک کښې دي چې په جنت کښې به د هیڅ چا کنیت نه وي سِوا د آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه، او د هغوئي د عزت او تعظیم د پاره به په جنت کښې د هغوئي کُنیت **اَبُومُحَمَّد** وي.
(تاریخ ابن عساکر،جلد388/7)

## زمکه باندې چینے څنګه جاري شوې؟

په یو روایت کښې دي چې کله الله پاک د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د پیدا کولو اراده اوفرمائیله نو زمکې ته ئې اوفرمائیل: زه ستا نه یو مخلوق پیدا کولو والا یم چې چا زما فرمانبرداري اوکړه هغه به زه جنت ته داخلووم او چا چې زما نافرماني اوکړه هغه به جهنم کښې اچووم نو زمکې عرض اوکړو: اے زما ربه! آیا ته به زما نه داسې

مخلوق پیدا کوې چې هغه به جهنم ته ځي نو **الله** پاک ارشاد اوفرمائیل: آؤ، په دې باندې زمکې دومره اوژړل چې چینے ترینه جاري شوې او دا به تر قیامته پورې جاري وي. (تفسیرصاوی،البقرة،تحت الاية:30، 1/49)

## مړې باندې خوشبو ولې لګوي؟

د **الله** پاک په بارګاه کښې زمکې عرض اوکړو: اے **الله** پاکه! زما نه خاوره اخستو سره زما خاوره کمه شوې ده، **الله** پاک ارشاد اوفرمائیل: پریشانه کیږه مه، (کله چې یو انسان) تا ته واپس راځي نو د مخکښې نه به ډیر ښکلے او خوشبوداره وي هُم دا وجه ده چې مړے په عطرو او مشکو خوشبوداره کوي.

(تفسیرروح البیان، پ1،البقرة،تحت الآیة:31، 1/98)

## د انسان په ژوند کښې خوشحالئ کمې او غمونه ډیر ولے؟

د **الله** پاک په حکم چې کله د زمکې نه خاوره جمع کړے شوه نو **الله** پاک حکم اوفرمائیلو چې دا هلته کیږده کوم ځائے کښې چې نن خانه کعبه ده. بیا فرښتو ته حکم اوشو چې د دې خاورې د مختلفو اوبو سره خټه جوړه کړئ. بیا په هغې باندې څلویښت ورځې باران اوشو. 39 ورځې د غم، او یوه ورځ د خوشحالئ، ځکه د انسان په ژوند کښې خوشحالي کمه او غمونه زیات دي.

(تفسیر نعیمی،پ1،البقرة،تحت الآیة:30، 1/225)

## د کجورې، کورو او انارو پیدائش

د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام مبارک خمیر چې د کومې ختې نه تیار شو د هغې نه پاتې شوې ختې نه د کجورې ونه جوړه کړے شوه ځنکه چې د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت مولٰي علي شیر خدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بیان فرمائي چې حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیل: "د کجورې احترام کوئ ځکه چې دا ستاسو د والد حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د پاتې شوې خاورې نه پیدا کړے شوې ده او په یو روایت کښې دي چې

کجوره، انار او کوَر د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د ختې نه پيدا کړے شوي دي.
(فيض القدير، 3/600، تحت الحديث: 3937)

## د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام مبارک صورت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! کله چې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د مبارک وجود ختّه جوړه کړے شوه نو هغه د هواګانو په ذريعه دومره وچه کړے شوه چې هغه د ټنګيدلې [کړنګيدلې] خاورې په شان شوه لکه ګودنړے [ټِيکرے]، بيا ئې فرښتو ته ارشاد اوفرمائيل چې دا د مکے او طائف د مينځه په وادئ نعمان کښې د عرفات د غر سره نزدے کيږدئ د هغې نه پس اللّٰه پاک په خپل دستِ اقدس د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام وجود جوړ کړو فرښتو مخکښې کله داسې ښکلے شکل و صورت نه وو ليدلے ځکه هغوئ د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام مبارک وجود ليدلو باندې ډيرې حيرانې شوې او د هغوئ نه ګير چاپيره په ډير تعجب سره ئې [هغوئ ته] کتل.(تفسير نعيمي، پ 1، البقرة، تحت الآية: 30، 1/226 مفهوما)

## د ابليس لعين بدنصيبي

د حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ په روايت کښې دي، چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: کله چې اللّٰه پاک په جنت کښې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام صورت جوړ کړو نو تر څو پورې ئې چې په هُم هغه حالت کښې ساتل خوښ وو نو هغوئ ئې [په هُم هغه حالت] پريښودلو. ابليس د هغوئ په خوا و شا کښې تاويدل را تاويدل شروع کړل، هغه به کتل چې دا څه څيز دے، چې کله ئې هغوئ تشه خيټه اوليدلو نو پوهه شو چې دا يو داسې مخلوق پيدا کړے شوے دے چې په خپل ځان به قابو نه شي ساتلے. (يعني دا مخلوق به د شهوت او غصے په وخت کښې په خپل نفس باندې قابو نه شي ساتلے او شيطاني وسوسے به په آسانئ سره نه شي لرې کولے.) (مسلم، ص1079، حديث: 6649) (شرح السيوطی علی مسلم، 5/538، تحت الحديث: 2611) په يو بل روايت کښې دي چې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام مبارک وجود ئې اوليدو نو ابليس دا هم اووئيل: آؤ، د

دۀ د سينے کڅ طرف ته يوه بنده کوټنئ ده دا معلومه نه ده چې په دې کښې څه دي، شايد چې هُم دا د لطيفهٔ ربّاني ځائے وي د څه په وجه چې دا د خلافت حقدار جوړ شوے دے. (تفسیر نعیمی،پ1،البقرۃ،تحت الآیۃ:30، 226/1) ابليس د فرښتو نه تپوس اوکړو که دا (يعني حضرتِ آدم عَلَیْہِ السَّلَام) ستاسو نه افضل جوړ کړے شو نو تاسو به څه کوئ؟ هغوئي اووئيل: مونږ به د الله پاک حکم منو، بدبخته شيطان لعين په زړۀ کښې اووئيل: که دا زما نه افضل جوړ کړے شو نو زۀ به د دۀ تابع نه اوسيږم.
(تفسیر روح البیان، پ1، البقرہ:31، 99/1)

## مشهوره غلط فهمي

بعضې خلق وائي چې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په مبارک وجود کښې د روح اچولو نه مخکښې شيطان معاذالله په هغوئي باندې توکلي وو. او د هغې لاړو نه سپے پيدا شو، د دې واقعے په باره کښې حضرت مفتي وقار الدين رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د سپي جوړيدلو دا روايت بےبُنياده او لَغْو (يعني فضول) دے په صحيح روايت کښې د دې څه تذکره نه موندلے کيږي. (وقارالفتاویٰ، 344/1)

## د سپي د آدم عَلَیْہِ السَّلَام اولاد سره د مينې وجه

حضرت امام حکيم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ترمذي فرمائي: الله پاک چې کله حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام زمکې ته راوليږلو نو شيطان د زمکې سرے خواره ځناور د هغوئي خلاف را اُوپارول، چې د هغې په نتيجه کښې د ټولو نه مخکښې سپي په هغوئي باندې حمله اوکړه. په دې کښې حضرت جبريل عَلَیْہِ السَّلَام راکوز شولو او عرض ئې اوکړو: "خپل لاس په دې [سپي] باندې کيږدئ." حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام چې پرې لاس کيښودو نو سپے په سکون شو، او ورسره عادت شو او د هغوئي حفاظت کول ئې شروع کړو، د سپي په طبعيت کښې تر قيامته پورې د آدم عَلَیْہِ السَّلَام د اولاد مينه کيښودلے شوه.
(الامثال من الکتاب والسنۃ، ص2827ملتقطا)

## جُمعے ته د جُمعے وئيلو وجه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د جُمعے معنٰي ده مجتمع کيدل، مکمل کيدل، جُمعے ته جُمعه ځکه وائي چې په دې ورځ باندې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جسم تکميل اوشو، د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: بهترينه ورځ چې په هغې کښې نمر راوخيژي هغه د جُمعے ورځ ده، هم په دې ورځ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پيدا کړے شو، هم په دې ورځ هغوئي (د جنت نه زمکې ته) راکوز کړے شو، هم په دې ورځ د هغوئي توبه قبوله کړے شوه، هم په دې ورځ هغوئي وفات شولو او هم په دې ورځ به قيامت قائميږي. (ابوداود، 390/1، حديث:1046) دلته د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د پيدائش نه مراد يا خو د هغوئي د جسم شريف تکميل دے، يا جسم شريف کښې روح اچول دي ځکه چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د جسم ساخت خو د ډيرې مودے پورې کيدلو، د هر قسمه خاورې او اوبو جمع کول بيا د هغې خمير جوړول، بيا ښکاره او باطني اندامونه جوړول، بيا ډيرو ورځو پورې وچول، په دې کښې ډيرې ورځې اولګيدې، دا په يوه ورځ او يو ساعت کښې نه دي شوي. (مرآة المناجيح، 606/7)

دو شنبہ مصطفٰی کا جمعہ آدم سے بہتر ہے     سکھانا کیا لحاظِ حیثیت خوئے تأمُّل کو

**الفاظ و معاني: دوشنبه:** د ګل ورځ. **خوئے تامّل:** د سوچ کولو عادت

**د رضا د کلام شرح:** اعلٰي حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډيره ښکلې خبره فرمائي چې د اللّٰه پاک د آخري نبي، مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وجهې نه ټول کائنات پيدا کړے شو، که هغوئي نه وے نو هيڅ به هم نه وے. لهذا د هغوئي د پيدائش ورځ د ګل ورځ د حضر آدم عَلَيْهِ السَّلَام د پيدائش د ورځې جُمعے نه افضله ده، د سوچ و فِکر عادت په دې پوهه کول ګرانه نۀ ده ځکه چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام هم آقا او د ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام سردار، شهنشاهِ ابرار دے.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب   ❀❀❀   صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د انسان د جسم نه د روح وتلو وخت کښې تکليف ولے کيږي؟

الله پاک چې کله روح ته د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په جسم کښې د داخليدلو حکم ارشاد کړو نو روح عرض اوکړو: اے الله پاکه! دا ځائے ډير زيات جَوَر او د تيارې والا دے. درې ځله حکمِ الٰهي اوشو او درې واره ځله روح هم دا عرض اوکړو نو الله پاک اوفرمائيل: که ته د داخليدلو نۀ غوښتلو باوجود داخليږې نو بيا به د وتلو په وخت کښې هم سخت تکليف کيږي. هم دا وجه ده چې کله د انسان د جسم نه روح اُوځي نو سخت تکليف ورته وي. (تفسير روح البيان،پ1/100،البقرة،تحت الآية:31) تفسير نعيمي کښې دي چې بعضې رواياتو کښې دي: نو هله د نورِ مصطفٰي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذريعه هغه مبارک قالب (يعني وجود) روښانه کړے شو يعني هغه نور د آدم عَلَيْهِ السَّلَام په تندي کښې امانت کيښودلے شو بيا روح په قلاره داخليدل شروع شو. (تفسيرِ نعيمی،1/226)

## د ټولو نه مخکښې پرنجے چا ته ورغے

د ټولو نه مخکښې ئې روح په سر مبارک کښې داخل شو نو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام له پرنجے [انژُوشے] ورغے، الله پاک د هغوئي په زړۀ کښې د اَلْحَمْدُلِلّٰه اِلهام اوکړو نو هغوئي اَلْحَمْدُلِلّٰه اووئيل: د دې په جواب کښې ښکلِه الله کريم يَرْحَمُکَ الله اوفرمائيل.[1] کله ئې چې روح ملا مبارکې ته اورسيدو نو هغوئي پاځيدل اوغوښتل خو بيرته ښکته شولو ځکه چې ښکته حِصَّے ته ئې روح نه وو رسيدلے، کله ئې چې ټول جسم ته روح اورسيدو نو الله پاک هغوئي ته ارشاد اوفرمائيل: اے آدمه! زه

---

[1]... اوس هُم پرنجي کولو والا ته اَلحمدُلِلّٰه وئيل پکار دي او اوريدونکي باندې واجب دي چې فوراً "يَرْحَمُکَ الله" اُووائي. (بهار شريعت،3/477،حصه:16)

خزائنُ العِرفان صفحه 3 کښې د طحطاوی په حواله ئې پرنجي راتلو باندې حمدِ الٰهی سنتِ مؤکّدہ ليکلے دے.

(550 سنتیں اور آداب،ص36)

څوک یم؟ حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: ته الله پاک ئې ستا نه علاوه بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته، الله پاک ارشاد اوفرمائیل: تا صحیح اووئیل. (تاریخِ ابنِ عساکر، 385/7) ترمذي شریف کښې دي چې الله پاک ارشاد اوفرمائیل: اے آدمه! دې ناستو فرښتو طرف ته لاړ شه او اُوواېه: اَلسَّلَامُ عَلَیْکُم. چنانچه هغوئي "اَلسَّلَامُ عَلَیْکُم" اووئیلو نو فرښتو جواب ورکړو: عَلَیْکَ السَّلَامُ وَرَحْمَۃُ اللّٰہِ. بیا هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام د الله پاک بارګاه ته واپس حاضر شولو نو الله پاک ارشاد اوفرمائیل: دا ستا او ستا د اولاد په خپل مینځ کښې سلام دے. (ترمذی، 241/5، حدیث:3379)

## د سلام برکتونه

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د دې واقعے نه دا هم معلومه شوه چې سلام کول ډیر پخواني سُنَّت دي، فیضانِ سلام عام کړئ او د رحمتِ خداوندي نه ښه ډیره حصه واخلئ، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقان رسول دیني تحریک دعوت اسلامي سُنَّتونه عام کوي. یو یو کور ته د سُنَّتو پیغام رسَوي. د "**72 نیک اعمال**" په رساله کښې نیک عمل نمبر 30 دے: "آیا نن تاسو کور، دفتر، بس، ټرین وغیره کښې تللو راتللو او په کوڅو کښې د تیریدلو په وخت کښې په لاره کښې ولاړو یا ناستو مسلمانانو ته سلام کړے دے؟"

شہا! ایسا جذبہ پاؤں کہ میں خوب سیکھ جاؤں
تری سنّتیں سکھانا مدنی مدینے والے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## سترګه، غوږ او پوزه کښې د قدرت کرشمے

عظیم تابعي بزرګ، د اهل بیت اِطهار روښانه شمعې، امام جعفر صادق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د خپل نیکه مبارک (حضرت امام زین العابدین رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ) نه روایت کوي چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے چې: "الله پاک په خپل فضل

و کرم سره د اِبنِ آدم (یعني انسان) په سترګو کښې ”نمکیني“ [یعني مالګین خوند] پیدا کړے دے ځکه چې دا دواړه د وازګې ټکړے دي که داسې نه وے نو دا به ویلې شوې وے. **اللّٰه** پاک په اِبنِ آدم باندې دا مهرباني هُم کړې ده چې د انسان په غوږونو کښې ئې ”تریخ والے“ پیدا کړے دے، کوم چې د خزندؤ [میږي، زمزې] وغیره د پاره رکاوټ دے ځکه چې که یو چینجے غوږ ته داخل شي نو دماغو ته رسیدے شي خو چې کله تریخوالے اُوڅکي نو بیرته بهر ته اوتښتي. **اللّٰه** پاک په خپل رحمت سره د اِبنِ آدم د پوزې په سورو کښې ”**حرارت**“ (یعني ګرمائش) پیدا کړے دے چې د هغې په ذریعه بوئي کول کوي که دا نه وې نو دماغ به ئې بدبوداره شي. **اللّٰه** پاک په انسان باندې دا فضل او احسان کړے دے چې د هغه په شونډو کښې ئې ”**خوږوالے**“ پیدا کړے دے چې د دې په ذریعه هغه خوند څَکي او خلق د دهٔ د خبرو د خوږوالي نه خوند اخلي.“ (حلیۃالاولیاء، 229/3، رقم: 3797، اللّٰہ والوں کی باتیں، 285/3)

## ثوک فرمانبرداري کوي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! **اللّٰه** پاک چې کله حضرت آدم صَفِيُّ اللّٰه عَلَیْہِ السَّلَام پیدا کړو نو فرښتو اووئیل: **اللّٰه** پاک به داسې مخلوق نه پیدا کوي کوم چې زمونږ نه زیات علم والا او د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې زمونږ نه زیات عزت والا وي. د آدم عَلَیْہِ السَّلَام په ذریعه د فرښتو ازمیښت اوکړے شو. دغه شان **اللّٰه** پاک خپل بندګان ازمیښت کښې اچوي چې [خلقو ته] ښکاره شي چې ثوک فرمانبراري کوي او ثوک نافرماني کوي او ثوک چې د دنیا او آخرت په باره کښې غور و فکر کوي هغه د یو په بل باندې فضیلت اوپیژني او پوهه شي چې دنیا د آزمائش کور دے او فنا کیدونکے دے او آخرت د بدلے او د همیشه پاتې کیدو والا کور دے، لِهٰذا (که تاسو طاقت لرئ) نو د داسې خلقو نه شئ کوم چې د دنیا ضرورت د آخرت د ضرورت په خاطر پریږدي او د نیکئ توفیق د **اللّٰه** پاک له طرفه ورکولے کیږي.
(تفسیر طبری، البقرۃ، تحت الآیۃ: 30، 242/1، تفسیر در منثور، البقرۃ: تحت الآیۃ: 219، 611/1 ملتقطاً)

## د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام قد مبارک

**بخاري** شريف کښې دي چې: د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام قد مبارک 60 ګزه (يعني 90 فټ) وو. ځوک چې هم جنت ته لاړ شي هغه به د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په صورت وي او د هغه قد به 60 ګزه وي. بيا د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه پس تر اوسه پورې د مخلوق (قد و قامت) مسلسل کم شوے دے. (بخاری،164/4، حدیث:6227)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِ د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: جَنَّت ته به صرف انسانان ځي، ځناور يا پيريان به نه ځي او ټول جنتي انسانان به د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په شان ښکلي او ښائسته او تندرسته وي ځوک به هُم بدشکله يا بيمار نه وي او د ټولو قد به 60 ګزه وي، ځوک به هُم د دې نه کم يا زيات نه وي، په دنيا کښې که ئې قد وړوکے وو يا غټ قد ئې وو، که ماشوم وو که بوډا وو، خو دا کمے صرف په دنيا کښې دے په آخرت کښې به جَنَّت کښې دا کمے پوره کړے شي. (مرآۃ المناجیح،314313/6 ملتقطا)

اے عاشقان رسول! په ښکاره دومره لوئے قد کيدل عجيبه او ناممکنه ښکاريږي خو د **الله** پاک قدرت ته که اوکتلے شي نو نۀ دا عجيبه ده او نۀ ناممکنه، ځکه چې **الله** پاک د دومره لوئے قد والا انسان جوړولو باندې بالکل قادِر دے.

ہے پاک رُتبہ فکر سے اُس بے نیاز کا　　　کچھ دَخل عقل کا ہے نہ کام اِمتیاز کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو نه افضل مخلوق

عظيم تابِعي بزرګ حضرت سعيد بن جُبَير رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِ فرمائي: د اولادِ آدم په خپل مينځ کښې په دې خبره باندې جګړه اوشوه چې د **الله** پاک په مخلوق کښې د ټولو نه زيات عزت والا مخلوق کوم يو دے؟ بعضو اووئيل: حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام

ځکه چې الله پاک هغوئي په خپل دستِ قدرت باندې پيدا کړے دے، په فرښتو ئې هغوئي ته سجده اوکړه. بعضو اوونيل: د الله پاک په مخلوق کښې د ټولو نه زيات عزت والا مخلوق فرښتے دي چې د الله پاک نافرماني نه کوي. بعضو نورو اوونيل: زمونږ او ستاسو په مينځ کښې به په دې خبره باندې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام فيصله کوي، بيا هغوئي د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په بارګاه کښې حاضر شول او د دې سوال تپوس ئې ترينه اوکړو نو هغوئي ارشاد اوفرمائيل: زما ځوئ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ټول مخلوق کښې افضل دے. الله پاک چې کله په ما کښې روح واچولو او روح زما قدمونو ته اورسيدو نو زه په اطمينان سره کښيناستم بيا زما د پاره د عرش ځلي اوپړقيده ما عرش ته اوکتل نو په هغې باندې "مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله" ليکلے شوي وو. لِهٰذا د الله پاک په نزد په مخلوق کښې د ټولو نه افضل د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک ذات دے. (تاریخ ابن عساکر،7/386،رقم:578)

ظاہِر میں میرے پھول حقیقت میں میرے نخل     اِس گُل کی یاد میں یہ صَدا بوالبشر کی ہے
(حدائقِ بخشش،ص208)

**الفاظ و معاني: گل:** ګلاب. **صدا:** آواز. **ابوالبشر:** د ټولو انسانانو والد حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام

**د کلام رضا شرح:** حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام به زمونږ خوږ او آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې يادولو. يَاابْنِيْ صُوْرَةً وَّمَعْنًى اَبِيْ يعني اے زما ځويه ته په صورت کښې زما ځوئ ئې خو په حقيقت کښې زما والد ئې ځکه چې که تاسو نه وے نو زه به هم نه ووم بلکه هيڅ به نه وو.

وہ جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو     جان ہیں وہ جہان کی جان ہے تو جہان ہے
(حدائقِ بخشش،ص178)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## جنتي او جهنمي

د الله پاک په عطا سره د غيبو خبرونه ورکوونکي خوږ آقائے کريم

صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: **الله** پاک حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام پيدا کړو بيا ئې د هغه په ملا باندې خپل ښے لاس راښکلو نو هغې سره د هغوئي اولاد را اُووتلو، **الله** پاک اوفرمائيل: ما دا د جنت د پاره پيدا کړي دي دوئي به د جنتيانو والا کارونه کوي، بيا په دوئيم ځل ئې د هغوئي په ملا باندې لاس راښکلو نو د هغې سره هم د هغوئي اولاد را اُوتلو بيا ئې اوفرمائيل: ما دا د جهنم د پاره پيدا کړي دي دا خلق به د دوزخيانو کارونه کوي. (ترمذی، 52/5، حديث: 3086)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د حديثِ پاک د دې حِصَّے (د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام په ملا باندې ښے لاس راښکلو) په باره کښې فرمائي: دا عبارت د متشابهاتو نه دے يعني د هغوئي په ملا باندې ئې د خپل قدرت توجه اوفرمائيله ګني رب د لاس د ښکاره معنٰي او د ښي [او ګڅ] لاس نه پاک دے، نُطفه د نارينه په ملا کښې وي، ځکه ئې توجه [د حضرتِ آدم عَلَیْهِ السَّلَام] په ملا باندې اوفرمائيله.
(مرآة المناجيح، 104/1)

## د حضرت داؤد عَلَیْهِ السَّلَام ښائست

په يو روايت کښې دي: کله چې **الله** پاک حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام پيدا کړو او د هغوئي په ملا باندې ئې لاس راښکلو نو د هغوئي د ملا نه د قيامته پورې د ټول اولاد روحونه را اُووَتل کوم چې به **الله** پاک پيدا کوي او په هغوئي کښې ئې هر انسان ته د دواړو سترګو په مينځ کښې د نُور يو ځلا ورکړه ، بيا ئې حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام ته مخامخ کړل : هغوئي اووئيل: اے ربه! دا څوک دي؟ اوئې فرمائيل: ستا اولاد، په هغوئي کښې ئې يو کس اوليدو نو د هغه د سترګو د مينځ ځليدل ئې خوښ شُو. عرض ئې اوکړو:اے ربه! دا څوک دے؟ اوئې فرمائيل: **داؤد** (عَلَیْهِ السَّلَام). عرض ئې اوکړو: اے ربه د دوئي عمر دِ څومره مقرر کړے دے؟ **الله** پاک ارشاد اوفرمائيل: 60 کاله. آدم عَلَیْهِ السَّلَام عرض اوکړو: مَولا! زما د عمر نه څلويښت کاله د دوئي د پاره زيات کړه. (ترمذی، 53/5، حديث:3087)

## آيا انسان مخکښې شادو وو

باني دعوت اسلامي شيخ طريقت امير اهلسنت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة ارشاد فرمائي: ډيره ځوانئ خبره ده چې زما د يو دنياوي تعليم يافته کس سره تعلق پيښ شو په خبرو خبرو کښې پته نشته چې هغۀ له څه سوچ ورغے چې د انسان د پيدائش په باره کښې ئې خبرې شروع کړې چې قرآن پاک د انسان د پيدائش په باره کښې وائي چې د حضرت آدم صَفِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام نه انسان پيدا شو او بيا د هغوئي نه د انسان نسل شروع شو او ډارون وائي چې انسان د شادو نه په وجود کښې راغلے دے. د دې نه پس هغه دا اووئيل: چې ''د ډارون خبره لږه په عقل کښې راځي.'' ما چې دا واوريدل نو ډير زيات پريشانه شوم چې دۀ خو د خپل ايمان جنازه اُوويستله ځکه چې ده په قرآن باندې شک اوکړو او اوئې وئيل چې ''د ډارون خبره څه نه څه په عقل کښې راځي.'' د قرآن کريم په مقابله کښې د چا خبره لږه هم په عقل کښې ولے راشي؟ داسې عقل په اور کښې اچول پکار دي، داسې عقل د څه کار دے؟ بهر حال بيا چې ما موقع اُوموندله نو پوهه مې کړو او توبه مې هُم پرې اوکړه او کلمه ئې اووئيله ځکه چې دا خبره خو د اسلام نه خارج کوونکې ده. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنّت،قسط:51)

## د تخليقِ انساني په حوالے سره صحيح او اسلامي عقيده

د مسلمانانو عقيده ده چې د انسانانو ابتدا د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه شوې ده ځکه هغوئي ته ابوالبشر يعنې د انسانانو پلار وائي. او د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه د انسانيت ابتدا کيدل د ډير مضبوط دليل نه ثابت دي مثلاً د دنيا د مردم شمارئ نه معلوميږي چې د نن نه سل کاله مخکښې دنيا کښې د انسانانو تعداد د نن نه ډير کم وو او د دې نه سل کاله مخکښې نور هم کم وو نو دغه شان چې ماضي طرف ته لاړ شې نو د دې کمې انتها به په يو ذات باندې قرار شي او هغه ذات د حضرت آدم

عَلَیْہِ السَّلَام دے یا داسې چې د قبیلو د کثرت تعداد په یو کس باندې ختمیږي مثلاً سیّدان په دنیا کښې په کروړونو دي خو د هغوئي انتها د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارک ذات باندې کیږي، دغه شان بني اسرائیل که هر څومره زیات وي خو د دې ټول کثرت اختتام په حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام باندې کیږي اوس دغه شان چې په بره لاړ شئ نو د انسان د ټولو خاندانونو او قبیلو انتها به په یو ذات باندې کیږي چې د هغه نوم په ټولو آسماني کتابونو کښې آدم دے او دا خو ممکنه نه ده چې د هغه کس پیدائش د موجوده طریقے مطابق شوے وي یعني د مور او پلار نه پیدا شوے وي ځکه چې که د هغه د پاره پلار فرض هم کړے شي نو مور به ئې د کوم ځائے نه راځي او بیا ئې چې څوک پلار اوګنړو نو هغه د کوم ځائے نه راغے؟ لِـهٰذا ضروري ده چې د هغه پیدائش بغیر د مور او پلار نه شوے وي او چې بغیر د مور او پلار نه پیدا شو نو بالیقین هغه د دې طریقے نه په بله طریقه پیدا شو، هغه طریقه قرآن بیان کړې ده چې الله پاک هغه د خاورې نه پیدا کړو کوم چې د انسان د اوسیدو ځائے یعني د دنیا بنیادي جُز دے. بیا دا هم ښکاره خبره ده چې یو انسان داسې پیدا شو نو یو بل داسې وجود پکار دے چې د هغې نه د انسان نسل اوچلیږي نو دوئیم هم پیدا کړے شو خو دوئیم د اولني په شان د خاورې نه د پیدا کولو په ځائے ئې چې کوم یو انسان موجود وو هم د هغه د وجود نه پیدا کړو ځکه چې د یو کس د پیدا کولو نه نوع موجود شوے وو چنانچه دوئیم وجود د اولني نه لږه کم تره طریقه باندې او د عام انساني وجود نه اوچته طریقه باندې پیدا کړے شو یعني د حضرت آدم یوه ګڅه پوښتئ د هغوئي د آرام په دوران کښې راوښکلے شوه او د هغې نه د هغوئي بي بي حضرت حَوّا پیدا کړے شوه ولے چې حضرت بي بي حَوّا رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د نارینه او زنانه د یو ځائے کیدو نه نهٔ وه پیدا شوې ځکه هغه اولاد نهٔ شي کیدے.

(تفسیر صراط الجنان، پ4، النساء، تحت الآیة:1، 2/139بتغیر قلیل)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نيك او لمونځ ګزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښاري کښې کيدونکي د دعوتِ إسلامي د سُنَّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتونو د تربيَّت د پاره مَدَنِي قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدينه" په ذريعه د مَدَني إنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي." إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com